مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمد انور آخِر ۲۰۲۱/۰۵/۱۲

# د ښوونځي د سپیڅلو ماشومانو وژل او قاتلین یې

د کابل د برچي د(سید الشهدا) د نجونو ښوونځي د ماشومو او سپیڅلو زده کوونکو دا ډول وحشي او له کرکې ډکې وژنې د کوم ډول ګروهي (عقیدې) له مخې ترسره کیږي؟ که د نړۍ ادیانو ته وګورو نو د نړۍ په ړښتینو ابراهیمي او نورو لویو دینونو کې د دا شان ظالمانه وژنو څرک نه تر سترګو کیږي او هغه ډلې چې په هېڅ دین پورې ګروهمن (معتقد) نه دي د انساني عاطفې او طبیعت له مخې د دغه شان وژنو مخالفت کوي.

دا ډول وژنې په تېرو پېړیو کې یوازې له اسلام څخه د وتلیو (خوارجو) ډلو له خوا روا بلل کیدې چې د دوی د مخالفینو د ښځو او ماشومانو وژل یې د ثواب کار باله، د خوارجو ازارقه، حمزیه ، واصلیه او بکریه ډلو ټپلو د کفر، خرافاتو، ظلم او سخت وحشت لاره غوره کړې وه، له دې ډلو څخه د خوارجو واصلیه ډلې د خپلو مخالفینو ماشومان، هغه که مسلمانان وو یا غیر مسلمانان وو، خپل دښمنان بلل او د دوی د وینو تویول یې روا عمل ګڼلی ؤ... دغه شان ازارقه ډله په دې ګروهه وه چې د دوی د مخالفینو ښځې او ماشومان به تل تر تله په دوزخ کې وي او وژل یې روا او مباح عمل دی، دوی مسلمانانو ته مشرکان او کافران ویل ... . (عبدالقاهر بغدادي: تاریخ مذاهب اسلام ۴۸-۷۵)

په دې (۲۱) پیړۍ کې هر هغه کس چې په هر دین او آیین، یا په هر قوم او توکم پورې اړه ولري او ځان انسان بولي د نړۍ ټول ماشومان باید د خپلو بچو په څېر وګوري موږ باید په دې پوه شو چې د نړۍ ټول خلک یو تر بل سره ورونه او خویندې دي او د آدم (ع) اولادونه دي، د نړۍ ټول ماشومان د الله (ج) لخوا موږ ته امانت راسپارل شوي دي نو باید چې موږ دا امانت په ګډه سره وساتو او د دوی په لویولو او روزلو کې یو تر بله اړینه مرسته وکړو نه دا چې خیانت ورسره وکړو او د الله تعالیٰ لخوا ورکړی ژوند ترې واخلو.

د اسلام سپیڅلي دین موږ ته را زده کړي دي چې د ټولې نړۍ ماشومان (فطرتاً سپیڅلي مسلمانان) دي او د هر ډول ګناه او خطا څخه له آره (تل پاک) دي د ټولې نړۍ ماشومان زموږ د خپلو ګرانو او خوږو ماشومانو په شان دي او د تولو مرګ او ژوند باید چې د خپلو اولادونو په شان وبولو.

په صحیح بخاري کې د پیغمبر(ص) په یوه حدیث شریف کې د ماشومانو په اړه داسې راغلي دي:

﴿مَا مِنْ مَوْلُودٍ إِلاَّ يُولَدُ عَلَى الْفِطْرَةِ، فَأَبَوَاهُ يُهَوِّدَانِهِ، وَيُنَصِّرَانِهِ، أَوْ يُمَجِّسَانِهِ، كَمَا تُنْتَجُ الْبَهِيمَةُ بَهِيمَةً جَمْعَاءَ، هَلْ تُحِسُّونَ فِيهَا مِنْ جَدْعَاءَ﴾

ژباړه:«هر بچی په اسلامي فطرت پیدا کیږي خو وروسته د هغه مور او پلار هغه یهودي، نصراني یا مجوسي کوي، لکه څرنګه چې د څناورو بچي تن درست او سالم پیدا کیږي، خو وروسته دا کافران د هغوی غوږونه او نور(غړي) غوڅوي، دا شان د انسانانو ټول بچي په اسلامي فطرت پیدا کیږي او له دې څخه وروسته حضور (ص) دا آیت تلاوت کړ».

﴿فَأَقِمْ وَجْهَكَ لِلدِّينِ حَنِيفًا ۚ فِطْرَتَ اللَّهِ الَّتِي فَطَرَ النَّاسَ عَلَيْهَا ۚ لَا تَبْدِيلَ لِخَلْقِ اللَّهِ ۚ ذَٰلِكَ الدِّينُ الْقَيِّمُ وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَ النَّاسِ لَا يَعْلَمُونَ﴾ (د روم سورت: ۳۰ آیت)

ژباړه:«نو ای پیغمبره (ص) د خپلو پیروانو سره دې په یو لوري کیدو سره خپل مخ د دغه دین خواته برقرار وساته، پر هغه فطرت محکم شه چې پر هغه باندې الله تعالی انسانان پیدا کړي دي. د الله جوړ کړی ساختمان نشي بدلیدلی، همدغه بیخي سم صحیح دین دی، خو زیاتره خلک نه پوهیږي.»

داشان د محمد(ص) حدیث شریف دی:«څوک چې زموږ په ماشومانو باندې شفقت ونه کړي او زموږ د لویانو ادب ونه کړي هغه زموږڅخه نه دي ... .» (ترمذي شریف)

وایي چې یو ځل په یوه غزا کې د مشرکانو ماشومان تر پښو لاندې شول رسول الله (ص) په دې کار ډیر خواشینی شو اصحابو وویل چې هغوی خو د مشرکانو اولادونه دي حضرت محمد (ص) ځواب ورکړ«د مشرکانو ماشومان له تاسو ښه او بهتر دي پام کوئ چې کوچنیان مړه نه کړئ.» (سید سلیمان ندوي: سیرت النبي(ص) ۲ توک)



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

د اسلام ستر او مهربان پیغمبر(ص) د ډېرو ماشومانو په مرګ باندې خپلې مبارکې اوښکې تویې کړې دي چې په دې اړه ډېر احادیث موجود دي.
سربېره پر دې، يو شمېر داړونکي ځناور هم شته چې خپل او د خپل هم جنسه بچیان خو خود نه وژني، د نورو حیواناتو بچیو ته هم زیان نه رسوي، ډېرو خلکو به د تلویزیون په پرده د حیواناتو یو فلم لیدلی وي چې یو داړونکی ځناور پړانګ (چې خوراک يې د هوسیو غوښې دي) د هوسۍ له يو وړوکي بچي سره لوبې کوي، پړانګ نه غواړي هغه وخوري، بلکې له نورو ځناورو يې هم ساتنه کوي، په داسې حال کې چې د هوسۍ بچی د پړانګانو له جنسه هم نه دی.
اوس دا پوښتنه رامنځ ته کیږي چې د ښوونځي ماشومو او سپیڅلو جلکیو وژل چې نه د نړۍ د نن ورځې په کوم دین کې جواز لري، نه انساني طبیعت دا ډول عمل خوښوي او نه هم ځینې ځناور داسې وژني ترسره کوي نو دا له انسانیت او حیوانیت وتلې کړنې د چا له خوا ترسره کیږي؟
ځواب دا دی چې زموږ په ګران هېواد کې چې هر سړی ځان د اسلام ټیکه دار بولي نو د اسلام د سپیڅلي دین په نامه خلک وژني او جهاد يې بولي، دا ډول وژنې یوازې او یوازې د هغو جاهلانو او شیطان ډوله انسانانو اعمال دي چې ځانونه مسلمانان بولي خو په حقیقت کې شیطانان دي، پر دغو وژونکو باندې د ناپاکستان، لوی شیطاني سازمان (ای، اس، ای) مسلط شوی دی، دوی د شیطان په اشاره جنایتونه ترسره کوي او د شیطان په لاره کې جګړیږي:
﴿اسْتَحْوَذَ عَلَيْهِمُ الشَّيْطَانُ فَأَنسَاهُمْ ذِكْرَ اللَّهِ ۚ أُولَٰئِكَ حِزْبُ الشَّيْطَانِ ۚ أَلَا إِنَّ حِزْبَ الشَّيْطَانِ هُمُ الْخَاسِرُونَ﴾ [۵۸: ۱۹]
ژباړه:«شیطان ورباندې مسلط شوی دی او هغه، د خدای یاد د دوی له زړونو هېر کړی دی، دوی د شیطان په ګوند کې دي، پوه شئ چې همدا د شیطان د ګوند کسان زیانکاران دي.» (مجادله: ۱۹)
دغو قاتلینو ته د دوی ناوړه او ناانساني اعمال شیطان ښایسته کړي دي او د خدای له لارې يې اړولي دي په دې هکله کلام الله شریف وايي:
﴿وَزَيَّنَ لَهُمُ الشَّيْطَانُ أَعْمَالَهُمْ فَصَدَّهُمْ عَنِ السَّبِيلِ فَهُمْ لَا يَهْتَدُونَ﴾ [۲۷: ۲٤]
ژباړه:«شیطان د دوی کړنې د دوی لپاره ښایسته کړي او هغوی يې له لارې اړولي دي، له دې امله هغوی سمه لاره نه مومي.» (نمل: ۲۴)
دا داسې تش په نوم، په دوو پښو روان انسانان دي چې د ډېرو ظلمونو له امله يې زړونه تیره شوي او زنګ وهلي دي، خپلې ترهګریزې او له کرکې ډکې کړنې ښې ورته ښکاري، په دې اړه قرآن عظیم وايي:
﴿كَلَّا ۖ بَلْ ۜ رَانَ عَلَىٰ قُلُوبِهِم مَّا كَانُوا يَكْسِبُونَ﴾ (۸۳: ۱٤)
ژباړه:«هیڅ کله نه، بلکې حقیقت دا دی چې د دې خلکو زړونه د دوی د بدو عملونو [له امله] زنګ وهلي دي.» (د مطففین سورت، ۱۴ آیت)
دغه قاتلان هغه خلک دي چې ځانونه مسلمانان بولي خو د اسلام احکام نه پلي کوي او د اسلام برعکس کړنې ترسره کوي قرآن کریم وايي:
﴿مَثَلُ الَّذِينَ حُمِّلُوا التَّوْرَاةَ ثُمَّ لَمْ يَحْمِلُوهَا كَمَثَلِ الْحِمَارِ يَحْمِلُ أَسْفَارًا﴾
ژباړه:«د هغه خره په څېر دي چې کتابونه ور باندې بار کړل شوي وي (او کټه نه شي ترې اخیستلی.)» (جمعه، ۵ آیت)
اوس به راشو دې ته چې کله د حساب او کتاب په ورځ له دا ډول بې ګناه او معصومو جلکیو څخه پوښتنه وشي چې په کوم جرم وژل شوي یئ:
﴿وَإِذَا الْمَوْءُودَةُ سُئِلَتْ بِأَيِّ ذَنبٍ قُتِلَتْ﴾
ترجمه:«و در آن هنگام که از دختر زنده به گور شده سؤال شود: به کدامین گناه کشته شده؟!» (تکویر: ۹-۸)
دا څرګنده خبره ده چې دوی بې ګناه وژل شوي دي، نو لوی څښتن به د دوی قاتلینو ته ووايي:
﴿فَلِمَ قَتَلْتُمُوهُمْ﴾
ژباړه:«ولې مو هغوی په قتل ورسول؟» (آلعمران: ۱۸۳)
وژونکي به د الله تعالی پروړاندې بې ځوابه پاتې شي نو لوی څښتن به دوی د تل لپاره په جهنم کې وغورځوي:
﴿وَمَن يَقْتُلْ مُؤْمِنًا مُّتَعَمِّدًا فَجَزَاؤُهُ جَهَنَّمُ خَالِدًا فِيهَا وَغَضِبَ اللَّهُ عَلَيْهِ وَلَعَنَهُ وَأَعَدَّ لَهُ عَذَابًا عَظِيمًا﴾
ژباړه:«هر هغه څوک چې کوم مؤمن له پوهې او ادراک سره، سره ووژني، نو د هغه سزا دوزخ ده چې په هغه کې به د تل لپاره استوګن وي، پر هغه د الله غضب او لعنت دی او الله د هغه لپاره لوی عذاب تیار کړی دی.» (نساء: ۹۳)

۲۱ /۲ /۱۴۰۰ ل، ل

پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په څیر و لولئ